SHARIAT WEEKLY

شریعت

اوونیزه

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

ځلورم کال اته ځلویښتمه ګڼه پرله پسې (۲۳۸) شنبه د ۱٤۲۰هـ ق کال د ربیع الاول (۲۰)د۱۳۷۸هـ ش کال د چنګاښ دمیاشتي(۱۳)د۱۹۹۹میلادي کال دجولاي (٤)

استاد سیاف از جانب اقاربش تحت فشار شدید قرار گرفته است

گفته میشود که عبدالستار پسر بزرگ استاد سیاف نیز از پدرش خواهش نموده تا هرچه زودتر صفوف مخالفین امارت اسلامی را ترک گوید

شریعت : استاد سیاف که زماني به عنوان امیر اتحاد اسلامي خود را از جمله رهبران جهادي جهاد افتخار آفرین ملت ما محسوب میشود اکنون با قرار گرفتن در صفوف ملیشه هاي مسعود و حمایت مالي و نظامي روسها و غیره دشمنان افغانستان، در صف مخالفین امارت اسلامي افغانستان قرار گرفته است اخیراً از جانب اقارب نزدیکش تحت فشار شدید واقع گردیده و از وي شدیداً تقاضا بعمل آمده است تا از همکاري با مسعود هر چه زودتر دست کشیده و بیش از این در صفوف ملیشه هاي باغي قرار نگیرد .

قرار گزارشات موثق از هجرت کلي منطقه جلوزایي پشاور که اکثریت اقارب و هوا خواهان سیاف در آن جا حیات بسر مي برند اخیراً فامیل و اقارب نزدیك استاد سیاف در منزل برادر استاد سیاف با هم گرد آمده و فیصله نموده اند تا به هر نحو یکه میشود استاد سیاف را قانع بسازند تا هر چه زود تر صفوف ملیشه هاي مسعود را ترك گفته و چند یومي را در آرامش و عزت سپري نماید، گفته میشود که عبدالستار پسر بزرگ استاد سیاف نیز در این راستا در صف اقارب خویش قرار گرفته و ضمن تماس مخابروي از استاد سیاف خواسته

ص ٤

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ ناسي ! ، همدا (عدل) ډیر نږدې دی تقوا(پرهیزګاری) ته .
(سورة المائدة)

توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بي حرمتي بگذارید.

هند او مسعود

په پاکستان کې د ورانکارو فعالیتونو د سرته رسولو په هکله موافقې ته ورسیدل

په افغانستان کې د هند پخواني سفیر له مسعود سره په پنجشیر کې لیدنه کتنه کړېده ، په دغه خبرو کې بروجردي هم برخه درلوده

د هند او پاکستان تر منځ د نیول شوي کشمیر د کارګل په سیمه کې د کرکیچ له سختوالي وروسته هند او مسعود په پاکستان کې د ورانکارو فعالیتونو په باره کې موافقې ته رسیدلي دي.

نړیوالو خبري منابعو په دې وروستیو وختو کې د هند او مسعود تر منځ له نږدې همکاریونه پرده پورته کړېده او زیاته کړې یې ده چې په افغانستان کې د هند پخواني سفیر او په تاجکستان کې د هند اوسني سفیر داکتر ارابي قریشي په دې وروستیو وختو کې په پاکستان کې د ورانکارو او تروریستي فعالیتونو د پیل او پراختیا په باره کې له مسعود سره په

٤ مخ

مسعود هم د خپل وررور په مشرې یو پلاوې هند ته استولی دی

جنگهاي خونین بین قوماندانان شوراي نظار در ولایت بغلان

جنگهاي خونین و شدیدي بین قوماندانان شوراي نظار در ولسوالي اندراب ولایت بغلان صورت گرفته است .

گزارشات واصله به آژانس اطلاعاتي باختر حاکیست که در جریان این جنگها چند تن از ملیشه ها کشته و تعدادي نیز زخمي گردیده اند وقوع این جنگها بین ملیشه ها ، قوماندانان شوراي نظار در منطقه اندراب به اثر بي اعتمادي و اختلافات ذات البیني و خود خواهي هاي ملیشه هاي مذکور به حدي خونین و شدید است که قوماندانان منطقوي شوراي نظار بخاطر جلوگیري

ص ٤

د سولې هر پروګرام باید د افغانستان په ګټه کې وي

رحمت الله صافي

لندن : د افغانستان یو پخواني جنرال رحمت الله صافي چې دا مهال په لندن کې دی د ظاهر شاه د سولې د اوسني پلان په اړه وویل چې دغسې غونډو ته د کامیابي تمه نشي

٤ مخ

در باره قیر ریزي سرك كابل - جلال آباد بحث همه جانبه صورت گرفت

محترم مولوي عبدالکبیر معاون شوراي سرپرست و رئیس تنظیمه زون شرق محترم ملا الله داد شهید وزیر سرپرست وزارت فواید عامه را دیروز در اقامتگاه شان در شهر جلال آباد غرض ملاقات بحضور پذیرفت . خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر از شهر جلال آباد خبر داد؛ طي این ملاقات در باره قیر ریزي سرك کابل - جلال آباد بحث و تبادل نظر همه جانبه صورت گرفته و فیصله بعمل آمد تا هیأت از نماینده گان وزارت خانه هاي پلان، امور خارجه و ریاست عمومي ترانسپورت تحت سرپرستي وزارت پلان توظیف و در مورد باز سازي و قیر ریزي سرك کابل - جلال آباد تصمیم بگیرد.

یك كاروان حامل سلاح و مهمات ملیشه ها طعمه حریق گردید

شریعت : قرار گزارشات واصله اخیراً یك کاروان حامل سلاح، مهمات و مواد سوخت ملیشه ها در مربوطات ولایت بدخشان طعمه حریق گردیده است .

گزارش مي افزاید : این کاروان که شامل ۳۰ عراده موتر لاري حامل سلاح و مهمات و پنجاه تانکر تیل بود از جانب اداره عسکر به ملیشه هاي مسعود و رباني غرض تداوم جنگ و بغاوت شان در افغانستان به آنها داده شده بود و بعد از عبور از سرحد تاجکستان افغانستان عازم ولایت بدخشان بود هدف قیر هاي

ص ٤

مرحوم پوهنوال دکتور حفیظي وفات نمود

با تأسف اطلاع حاصل نمودیم که مرحوم پوهنوال دوکتور عبدالستار حفیظي استاد و رئیس سابق پوهنځي زمین شناسي پوهنتون کابل به اثر سکته قلبي دیروز به عمر شصت و سه سالگي داعي اجل را لبیك گفت . انا لله و انا الیه راجعون . مرحوم پوهنوال دوکتور عبدالستار حفیظي شخصیت علمي کشور عمري را در راه تدریس و آموزش اولاد کشور سپري نموده و در این راستا خدمات ارزشمندي را انجام داده است. مرگ مرحومي در حلقات علمي و فرهنگي کشور ضایعه بزرگ محسوب گردیده از خداوند لایزال براي مرحومي طلب مغفرت و براي خانواده وي صبر جمیل خواهانیم. فاتحه مرحومي امروز از طرف پوهنتون کابل و فامیل مرحومي در مسجد جامع شیر پور گرفته میشود.

ایالات متحده امریکا به حکومت صربستان هشدار داد

ایالات متحده امریکا به حکومت صربستان در مورد توسل به زور جهت کسب قدرت در جمهوري مونتینگرو وابسته به یوگوسلاویا هشدار داده است .

به گفته جمز فوري نطاق وزارت خارجه ایالات متحده امریکا در حال حاضر چهل هزار عسکر صربستان در مونتینگرو مستقر شده اند و ستي کرك قوماندان عمومي ناتو در اروپا دیروز به حضور فزاینده نیرو هاي صرب در مونتینیگرو اشاره نموده و همزمان در مورد نتایج احتمالي این تمرکز و کودتاي احتمالي هشدار داد .

ص ٤

سیمینار علمي و میتودیك مسؤولین و استادان مؤسسات تحصیلي وزارت دفاع ملي دایر گردید

سیمینار علمي و میتودیك مسؤولین و استادان مؤسسات تعلیمي و تحصیلي وزارت دفاع ملي که هدف عمده آن ارتقاي سطح دانش محصلین و بهبود تعلیم تربیه مسلکي در آن مؤسسات میباشد دیروز دایر گردید.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد : در این سیمینار علمي و میتودیکي در حدود ٤٥ تفر از استادان رؤساي تدریسات و معاونین مؤسسات تعلیمي و تحصیلي نظامي اشتراك داشته و کار این سیمینار که هدف آن عبارت از ارتقاي سطح دانش محصلین و بهبود تعلیم و تربیه مسلکي در مؤسسات متذکره میباشد توسط محترم مولوي سید محمد قاسم قاسمي رئیس تعلیم و تربیه وزارت دفاع ملي در تالار کنفرانس هاي آن وزارت دیروز رسماً آغاز گردید.

سیمینار متذکره سه روز دوام میکند.

د لغمان ولایت د قرغه یي د ولسوالي د وداني د بنستې ډبره کیښودل شوه

شریعت : د لغمان ولایت د قرغییو د ولسوالي د وداني د بنسټ ډبره په تیره اونۍ کې کیښودل شوه .

د شریعت اوونیزې اداري ته د رارسیدلي خبر له مخې ددغې ولسوالي د بنست ډبره د ختیځ زون د تنظیمه ریاست د سرپرستیال محترم مولوي صدراعظم لخوا کیښودل شوه دغه وداني چې په پاخه او عصري توګه وداني<del></del>ږي د پنځلس خونو او نورو ضروري ملحقاتو درلودونکي دي

٤ مخ

د عامې روغتیا په وزارت کې :

د نري رنځ د علاج په هکله یو مشورتي ورکشاپ جوړ شو

د نري رنځ په ناروغي د اخته کسانو د درملنې او علاج د لارو چارو د لټولو مشورتي ورکشاپ پرون د عامې روغتیا په وزارت کښې جوړ شو .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ په هغه غونډه کې چې له هندي امله د عامې روغتیا وزارت په تالار کې جوړه شوې وه لومړي د عامې روغتیا وزارت سرپرست محترم الحاج ملا محمد عباس اخند د ورکشاپ د شاملانو د علمي پوهې د سطحې د لوړولو په کار کې ددغه ورکشاپ د اهمیت او ارزښت په باب خبرې وکړې او وروسته د نري د روغتیایي سازمان سلاکار د ورکشاپ د هدفونو په اړوند اوږدې څرګندونې وکړې.

په دې ورکشاپ کې چې شپږ

٤ مخ

میلاد با عظمت حضرت سرور کائنات طي اجتماع با شکوهي تجلیل گردید

شریعت : فرا رسیدن یکهزار و چهار صد و هفتادو سوم سالروز ولادت با سعادت رهبر عالم بشریت حضرت محمد مصطفي «ص» طي محفل عظیم الشأن در مدرسه ضیا القرآن قریه ده یحیی ولسوالي ده سبز برگزار گردید.

محفل ساعت ۸ صبح روز جمعه با تلاوت آیاتي چند از کلام الله مجید توسط حافظ عبدالمحیط آغاز گردید . سپس عالم جید شیخ القرآن والحدیث مولوي صاحب خواهرزاده طي سخنان عالمانه و سودمند شان سجایا و اخلاق عظیمه پیامبر راستین و برگزیده اسلام «ص» را ستودند و سپس کلام نعتیه توسط میر عبدالرقیب «جهید» قرائت گردید. سپس

ص ٤

د کندهار پوهنتون رئیس محترم بخت الله «صاحبزاده» له شریعت اوونیزې سره په مرکه کې :

په کندهار پوهنتون کې ٤٥٠ محصلین په زده کړه بوخت دي

د شرعیاتو او ادبیاتو پوهنځي به په نږدې راتلونکي کې فعال شي

لابراتوار او کتابتون فعال ، او تدریسي پروګرام دیر سه شویدي

محترمو لوستونکو !

زمونږ خبریال په کندهار کې د کندهار د پوهنتون د اړوندو چارو او څرنګوالي په اړه ددې پوهنتون له رئیس سره مرکه کړېده چې لوستلو ته یې ستاسو پام را اړوو.

پوښتنه : د کندهار پوهنتون څو پوهنځي فعال دي ؟

ځواب : د کندهار پوهنتون چې د اسلامي امارت له قایمیدو سره یې په منظم ډول فعالیت پیل کړي فعلاً دوه فعال پوهنځي چې عبارت له طب او زراعت څخه دي لري البته دوه نور پوهنځي چې شرعیات او ادبیات دي هم په تشکیل کې لري چې انشاء الله په نږدې راتلونکي کې به هغه هم فعال شي.

پوښتنه : په کندهار پوهنتون کې ټول څو تنه محصلین په زده کړه بوخت دي ؟

ځواب : د نوي تعلیمي کال د جدید الشمولانو سره د پوهنتون د محصلینو شمیر ٤٥٠ تنو ته رسیږي .

پوښتنه : په کندهار کې د لیلیه

ص ٤

د کوسووا نیمایي شمیر مهاجرین اوس هم د مهاجرت شپې ورځې تیروي

په یوګوسلاویا باندې د ناتو د هوایي بریدونو له بندیدو وروسته د یوې میاشتې له تیریدو سره سره اوس هم د کاسووا کابونیمایي مهاجرین د مالي ستونزو له امله د مهاجرت په حال کې شپې سبا کوي.

دا کار په مالي ژمنو باندې د عمل نه کولو په دلیل په لویدیځو هیوادونو باندې د ملګرو ملتو د سازمان د عالي کمشنري له سختې نیوکې سره مخامخ شویدي.

ددغې کمشنري یو ویندوي څرګنده کړېده چې لویدیځ هیوادونه په خپلو ژمنو عمل نه کوي او د کاسووا اداره په اوس

٤ مخ

اطلاعیه وزارت عدلیه

چون دارالتأدیب براي آنعده از نوجوانانی که عمر شان از ۱۸ سال کم باشد و دست به جرایم اخلاقي و قانون شکني میزنند یك اداره اصلاحي تعلیمي و تربیتي میباشد و در تشکیل وزارت عدلیه در مرکز و پنج زون کشور فعالیت مینماید. بنأ به اطلاع اقارب آنعده از نوجوانانی که عمر شان از ۱۸ سال کم باشد و به اعمال بد و ناشایسته دست مي زنند رسانیده میشود تا به خاطر تربیه سالم آنان را از طریق محاکم مربوط به دارالتأدیب هاي ذیل بسپارند :

۱- ساکنین ولایات میدان وردك، لوگر و کابل به ریاست دارالتأدیب کابل.

۲- ساکنین ولایات غزني، پکتیا، پکتیکا، و خوست به مرکز ولایت پکتیا ریاست دارالتأدیب گردیز.

۳- ساکنین ولایات کنر،

ص ٤

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

د افغانستان د لرغونو اثارو د ساتنې او پالنې لپاره څو مشورې

لرغوني اثار که له یوې خوا د یوه هیواد او ولس د تاریخي لرغونتیا څرګندوي او د کلتور او عنعنې تر ټولو باوري ترجمان او مظهر دي نو له بلې خوا په اوسني وخت کې د یو ټاټوبي قیمتي پانګه هم ګڼلې شي او د نړۍ له هر ګوټ نه یې سیلانیان سیل او لیدلو ته راځي او په لیدلویې د یو هیواد د تاریخي قدامت، ژوند دود ، کلتور او عنعنې نه ځان خبروي همدا راز تاریخي او لرغوني اثار د یو هیواد د ښکلا لامل هم ګرځي.

د ۱۳۵۷ د ثور له کودتا تر مخه افغانستان هم د نړۍ له هغو لسو هیوادونو څخه یو هیواد ګڼل کیده چې ستر او بډاي موزیم یې درلود او د نړۍ له هر ګوټ نه به یې سیلانیان

ص ۲

شریعت

د تاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش

: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې

مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»

مرستیال : ملیار «کاکړ»

دبوي گڼي بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری

پست بکس : (٤۷۱) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱

جاري حساب : ٤۰۳۸۵/۷ د افغانستان بانك مرکز

چاپ : دولتی مطبعه

د سرمقالې پاڼې برخه

او څیړونکي سیل او کتلو ته راتلل او دلته به یې د افغان مسلمان ولس د تاریخي قدامت ، فرهنگ او کلچر په اړه څیړنې کولې چې په دې کار سره به یو د افغانستان حیثیت او پرستیژ لوړېده اوهم به یې له دې لارې ډېرې پیسې تر لاسه کولې.

همدې حقیقت ته په توجه سره د افغانستان اسلامي امارت د تاریخي اثارو ساتنې او پالنې ته د خپلو مهمو دندو په سر کې ځای ورکړیدې او په دې اړه یې ډېر مهم او گټور گامونه اخستي دي د هیواد له گوټ گوټ ته یې په ډېر شمیر سره هغه تاریخي اثار چې په تیره دوره کې چور او تالان شوي وو بیرته راغونډ کړل او خپلې اړوندي مرجع ته یې وسپارل همدا راز د هغو اثارو د لاس ته راوړنې لپاره یې چې له هیواد نه ویستل شوي وو له هر چا نه د مرستې غوښتلو اعلان وکړ د ملي موزیم د ترمیمولو کار یې پیل، د «یونسکو او سپك» په څیر له هغو نړیوالو موسسو سره یې چې د لرغونو اثارو د ساتنې او پالنې دنده په غاړه لري رسمي اړیکې ونیولې او د هر اړخیزي مرستې غوښتنه یې تري وکړه.

د هیواد لرغونو او تاریخي اثارو ته د اسلامي امارت خاصه پاملرنه له دې څخه هم جوتیدلې شي چې تیره اونۍ یې د لرغونو اثارو د ساتنې او پالنې لپاره د لانښو تدابیرو د نیولو په منظور د اسلامي امارت سرپرستي شورۍ ځانگړې او مهمه غونډه دایره کړه او په دې غونډه کې فیصله وشوه چې دا تاریخي او لرغوني اثار د بیت المال برخه ده او په دې اړه له مسؤولو مراجعو پرته د بل چا هر ډول تصرف لکه کیندل، قاچاق، تجارت، صدور منع ده او که هر څوك په دې جرم ونیول شول نو لازمه سزا به ورته ورکړل شي، همدا راز ددې لپاره چې ددې اثارو د ضایع کېدلو مخه نیول شوې وي نو د اطلاعاتو او کلتور وزارت د فني کدرونو او لرغون پیژندونکو اشخاصو په شمول یې یوه درنه غونډه جوړه کړه او ددې اثارو د ساتنې او پالنې لپاره یې نور هم گړندي لازم گامونه واخستل.

د افغانستان د لرغونو اثارو د ساتنې او ژغورنې لپاره له هیواده بهر هم ډېرې هڅې رواني دي او په بیلا بیلو هیوادونو کې په دې اړه ډېرې غونډې جوړې شوي چې بېله بیلگه یې په همدې نږدې تیرو ورځو کې د لندن غونډه وه دلته دا یوه خبره د یادونې وړ ده چې که چیرې ددې غونډې د برخه والو هدف په رښتیا هم د افغانستان، د تاریخي اثاو ژغورنه ، راټولو نه او ساتنه وي- ان شاء الله چې همداسې به وي هم- او له دې نوم او عنوان نه یې نوره بهره برداري غرض نه وي نو لازمه خو دا ده چې دا ټولې غونډې د افغانستان د اسلامي امارت د اړوندو مسؤولینو تر اشراف لاندې وشي ځکه اسلامي امارت اوس په افغانستان حاکم شرعي او قانوني نظام دي په اوضاع او حالاتو کنټرول لري، د وطن د ابادۍ او بیا رغونې لپاره برنامې او پلانونه لري ، پایتخت یې په اختیار کې دي او د افغانستان د لرغونو اثارو مرکز ملي موزیم په واك کې لري نو حتمي ده چې باید دوي په جریان کې وي له دوي معلومات وغوښتل شي، مشوره ورسره وشي، په تصمیم کې باید شریك شي ځکه دا ټول معلومات په موثق او باوري دول یوازې له همدوي سره دي او که اسلامي امارت په جریان کې نه وي او فرض کړو چې دوي د کوم مهم اثر په موندلو بریالي شي او لاس ته یې راوړي نو بیا به یې چیرې وړي ؟

نو ددې کار د بریالیتوب لپاره یو عملي گام دا دي چې که دوي په دې اړه څه تصمیم نیسي دا یو نیك اقدام دي خو باید د اسلامي امارت له لارې یې ونیسي که چیرې په رښتیا هم دوي د لرغونو اثارو ساتنه غواړي نو باید له اسلامي امارت سره اقتصادي مرستې وکړي ځکه د افغانستان اقتصاد ډېر کمزوري دي او حتمي ده چې دا هلې ځلې اقتصاد ته اړه لري او دا موسسې خو د همدې کار لپاره له ملگرو ملتونو او نورو نړیوالو ټولنو نه فنډونه تر لاسه کوي. او اوس خو نړیوال تر ډېره حده په دې خبره قانع هم دي چې اسلامي امارت د لرغونو اثارو او تاریخي ابداتو د ساتنې او روزنې په کار کې ډېره توجه کوي چې د لندن په غونډه کې نشر شوي راپور ددې ادعا ثبوت دي موږ په زغرده وایو چې که چیرې دا مشورې عملي شي نو د افغانستان د تاریخي اثارو د ساتنې، پالنې او ژغورنې لپاره به په رښتیا هم خدمت شوي وي.

منفي اغیزي!!

زموږ په ډېرو دوستانو به دا لیکنه ستوغه او ترخه ولگیږي ، په تبصرو، تأویلونو او بگو مگو به سره کیني او دانش کتاب خپرنځي ته به د تیلفونو لړۍ پرانیستل شي، لکه څنگه چې زما د ځینو لیکنو په اړه د دانش کتاب خپرنځي تیلفون ستومانه دي ؟ داسې به دا ځل په بدگنو د اسد الله ساپي مېله گرمه شي، خوزه یې بیا هم لیکم د چا د خوشالۍ له پاره یې نه لیکم او نه یې د چا د پالیسو د ملاتړ په خاطر لیکم نور نو د انډیوالانو خوښه چې څرنگه تبصره کوي او څرنگه یې گڼي، خو زما له پاره یو خبر دي ، نوي او په زړه پوري خبره هسې هم دانش کتاب خپرنځي ته د داسې موضوعاتو ضرورت دي، هغه بله ورځ یې میا فاروق فراق ته هم یوه د وسیه اچولې وه داسې د ډېرو لیکوالو او شاعرانو د دوسیو اصلو نه که هلته نه وي نو نقلونه و فوتوکاپي یې هر سړي په خلاص مټ لوستلې شي. او د ریسرچ او تحقیق دروازې د ټولو پر مخ پرانیستې دي د جهاد په وروستیو کې ځینو کړیو چې ځانونه یې باخبر ذرایع گڼل دا خبره کوله چې د کور به هیواد حساسو ادارو د هر جهادي مشر له پاره گڼې د وسیې او سیکتولونه برابر کړي چې د ضرورت پر وخت به یو یورامخي ته کوي، معنا دا چې هر یو یې بلیك میل کړي چې هیڅ غوږ نشي تري ښوروليي - دا خبره به سمه وي که نه خو دانش کتاب خپرنځي د هماغه حساسه اډارې په څیر په رښتیا هم د لیکو الوله پاره داسې ډېرې دوسیې او سیکتدلونه برابر کړي دي. خبر داسې دي چې د پاکستان یوې مرکزي ورځپاڼې په یو خبر کې د دارالامان « د یې کسه نجونو لسر کاري استوگنځای» مشرې زبیده خانم له خولې لیکلي د تلویزیوني پروگرامونو د منفي اغیزي له امله بل ډول وړیښې یا لږ تر لږه زموږ له پاره چې له دوولسیزو زیات عمر مو په جگړو او نفرتونو کې تیر شو بل ورېښکاري اوس چې د کشمیر پر سر د هند او پاکستان تر منځ د جگړو او نفرتو سپر منفي بادیوي د مینې او محبت د تبلیغ په ځای د جگړې او عسکري قوت د تبلیغ موسم دي ځکه خو رادیو او تلویزیون هم ښایي له مینې او محبت سره په مخه ښه وکړي له هغه نه ووروسته دا دي یو بل خبر خپور شو چې زبیده خانم دي ته اړ شوي چې پر بوه چپر کتې د دریس پالنځي» نوم ورکړي ؤ چې مشره یې د ببرك کارمل میرمن محبوبه کارمل وه - تنظیمونو هم په پیښور کې جلا جلا دارالایتامونه لرل چې که یتیمان یې پالل او روزل که نه خو د دکانداري بازار یې ښه تود کړي ؤ .

د ائتلافي جگړه مارو په واکمنۍ کې دغه پالنځي هم د راکټونو تر بریدونو لاندې ونیول شول او د جگړه مارو باغي هوسونو دا هر څه تر پښو لاندې کړل ، تر دې چې دارالسجانین هم تري خوندي پاتې نشو.

خبره تر تلویزیون او تولوېزیوني خپرونو پوري وه، د پاکستاني تلویزیون د خپرونو مثبت اړخونه به د تلویزیون چارواکوته څرگندوي خو هغوي یو مجبوریت دا وړاندې کوي چې دوي ته د هندوستان د تلویزیوني خپرونو مقابله ور په غاړه ده، که داسې ونه کړي نو بیا یې ځوانان هندوستاني خپروني گوري، هسې نه چې دغه ډگر هم لکه هندي فلمونه هغوي تري وگټي دا څه وخت کیږي چې په امریکا کې هم د ښوونځیو زده کرونکو د تشدد خواته مخه کړې او هلته هم څلور پنځه داسې پیښې شوي چې زدکوونکو په ټوپکو او تومانچو په لسگونو زدکوونکي وېشتلي، مړه او ټپيان کړي یې دي په دغو پیښو کې هم د تلویزیون او سینما د منفي اغیزو خبرې شوي .

منفي اړخ خو د تمدن په هره کرشمه کې موجود دي موټر هم د ټکر او چپه کېدو خطر لري، الوتکه هم، کلاشنکوف، توپ او ټانك خو لا څه کوي ؟

پټې پاڼې

شهرت ننگیال

له کورونو د نجونو د تښتیدلو پیښې دومره زیاتي شوي چې اوس په دارالامان کې د استوگنې ځای نه دي پاتې او مسوؤ اړ شوي یو چې په بوه چپرکټ دوي دوي نجوني ویدې کړو.

زبیدې خانم خو پر نجونو د تلویزیون د منفي اغېزونه سر ټکولي خو پر ځوانانو ددغسې اغیزو په اړه په لسوړ خبر کې څه نه وو ویل شوي.

نواي وقت ورځپاڼه په «سر راهي» کې لیکاري چې تلویزیون د مینې او عاشقۍ له تبلیغ پرته بل کار نلري.

د مینې، الفت او محبت له تبلیغ نه د سر راهي سرټکول سړي ته څه نجلی بستره هم وغورږي .

دي دغه ټوله گناه پر تلویزیوني خپرونو اچولې او غوښتي یې دي چې څرنگه د حفاظتي تدابیرو له مخې د دارالامان په انگړ کې د نجونو د استراحت اجازه نشته د جون او جولای گرمي او په کوټو کې د نجونو وېریښت له خولو سره تنوروته جوړ کړي دي.

په افغانستان کې د تلویزیون خپروني نشته موږ ټول یې له منفي او مثبتو اغیزو بیغمه یو دارالامان پخوا هم ؤ ، اوس به هم وي ځکه د دولسیزو جگړو او فقر د یتیمانو شمیر دومره لوړ کړي چې د رښتیني شمیر معلومول یې هم گران کړي دي د پرچم په دوران کې یې د «وطن

سخني در حاشیه کنفرانس قبرس

آنانیکه جریانات و وقایع سالهاي جهاد را از آغاز یعني پس از کودتاي ثور ۵۷ بدقت دنبال کرده اند با نظر صاحب این قلم موافق خواهند بود که دفتر ضخیم وقایع آن سالها هیچگاه از مضمون (قریب الوقوع بودن بازگشت شاه سابق) خالي نبوده است .

شایعه این ظهور مجدد در صحنه سیاسي در طول سالها آنقدر تکرار شد که رفته رفته ارزش خود بعنوان یك قضیه جدي را از دست داد و فقط به یك تکرار لفظي در حلقه هاي از شکست خورده هاي سیاسي مایوس از دسترسي بقدرت بدل گردید.

تردیدي نیست که در (تکرار این مکرر) بیش از اینکه تحرك شخص پادشاه مخلوع با هوادارانش نقشي در خور اهمیت داشته باشد حساسیت تنظیم هاي جهادي به اصطلاح غرب(بنیادگرا) داراي نقش و اثر بود. در هر محفل و گردهمایي از طرف این گروهها ، مقال از مقداري فحش و دشنام و نفرین نسبت به شاه سابق بعنوان حامي کمونیزم در افغانستان خالي نبود و همین موضوع در مطرح ساختن ظاهر شاه بعنوان عنصري که لا اقل میتواند در مهار کردن گروههاي بنیاد گرا از وي استفاده بعمل آمد بسیار مؤثر بود.

اما بنظر نگارنده مطرح شدن ظاهر شاه در مقاطع مختلف در آن روزگار یك تاثیر دیگر نیز داشت که براي مخالفین جهاد میتوانست بسیار در خور توجه باشد : تنظیم هاي جهادي به دو دسته (مخالفین سر سخت ظاهر شاه و آنهایي که نسبت به وي نظر نا مساعد نداشتند) تقسیم شد و به این ترتیب در تعمیق اختلاف و دو دستگي میان تنظیم ها عنصر دیگري نیز علاوه گردید، البته شدید ترین مخالفت ها از طرف حزب اسلامي جناح آقاي حکمتیار ابراز مي شد بحدي که هواداري از ظاهر شاه و جانبداري از اشغال افغانستان بوسیله روسها هر دو معني مترادف داشت.

بنا بر این وقتي درین اواخر بار دیگر جلسه و گردهمایي در اینجا و آنجا به حمایت از شاه سابق براه افتاد چیزي جز تکرار همان مکرر نمي توانست باشد ولي در میان همه این تحرکات، کانفرانس یا گردهمایي یي که در قبرس به ابتکار یکي از همه کاره هاي حزب اسلامي، آقاي همایون جریر صورت گرفت بار دیگر این علامت سوال را در ذهن نگارنده خلق کرد : در سیاست تخلف و عدول از (اصول) تا **چه حد میتواند (روا) و (جایز) تلقي گردد؟ آیا تخلف از اصول خود اصلي در سیاست است ؟**

نگارنده این سطور بعنوان کسیکه بخشي از سالهاي جهاد را با آقاي (جریر) کار کرده است نمي تواند از اظهار تأسف لا اقل در یك مورد خودداري کند : حیف از آنهمه وقت و انرژي و رنگ و کاغذ و امکاناتي که براي تدویر میتنگ و جلسه و راهپیمایي در طول این سالها از جانب حزب اسلامي براه افتاد و شخص آقاي جریر نیز در آن سهم داشت تا توطئه (امریکایي - روسي) بازگشت ظاهر شاه به مسند قدرت عقیم ساخته شود.

کنفرانس قبرس میتواند جالب باشد ولي هرگز عجیب و غیر مترقبه نیست. موضع گیري هاي حزب اسلامي بخصوص پس از سرنگوني رژیم نجیب در هر مورد توأم با تضاد و تناقض بود گویي چیزي بنام مرام و اصول درین حزب اساساً (کان لم یکن) بوده است و البته این نکته را نیز نباید از نظر دور داشت که نقشي که آقاي جریر در جهت دادن به اینگونه موضعگیري هاي نا هماهنگ بازي کرد بسیار نمایان بود.

آقاي جریر در رابطه با کنفرانس

وحید «مژده»

قبرس بر این نکته تاکید داشت که سلسله جنبان این حرکت دست هاي خارجي نبوده بلکه ابتکاري بوده که از اراده خود افغانها سرچشمه گرفته و هدف اصلي آن یافتن راه حل صلح آمیز براي قضیه افغانستان است .

فرض مي کنیم این سخن درست است ولي انسان هر قدر هم ساده اندیش باشد لا اقل به این نکته مي اندیشد که در فرجام کار این (آبها) به کدام (آسیاب) مي ریزد؟ مگر در فرجام تلاش در جهت بازگشت ظاهر شاه نیست ؟

در اینجا من توجه آقاي جریر را به یك خاطره مشترك جلب مي کنم : در آستانه امضاي قراو داد ژنو که سر و صداي بازگشت ظاهر شاه با زور و شور تمام در حلقه هاي غربگرا مطرح بود و حتي امریکا به (پیتر تامسن) سفیر خود در نزد مجاهدین وظیفه داده بود تا دفتري براي ظاهر شاه سابق در روم تاسیس کند آقاي حکمتیار به من و شما و دیگران دستور داد تا بر علیه شاه سابق به تبلیغات وسیع و همه جانبه بپردازیم از آن جمله اینکه صد ها شعار در هزاران نسخه چاپ و بشکل پوستر در کمپ هاي مهاجرین در سراسر پاکستان توزیع گردد.

من برخي از آن شعار ها را که شما پیشنهاد کرده و یا انتخاب نموده بودید بخاطر دارم :

حمایت از ظاهر شاه خیانت به آرمان جهاد و خون شهداء است .

ظاهر شاه با حمایت از کمونیزم در افغانستان زمینه ساز کودتاي هفت ثور است .

ظاهر شاه باید بازگردد نه براي حکومت کردن بلکه براي محاکمه شدن و بسیار شعار هاي دیگر از جمله :

فقط ورشکسته هاي سیاسي و مایوس از حمایت ملت به ظاهر شاه دل بسته اند.

هر چند گذشت زمان سالهاي زیادي را از آن روزگار تا امروز به عمر ظاهر شاه، جریر و من افزوده ولي در رابطه با ظاهر شاه یك نکته هنوز تازگي خود را حفظ کرده است. هنوز هم ظاهر شاه مرجع امید ورشکسته ها و پاك باخته هاي میدان سیاست است با این تفاوت که امروز دوست من آقاي جریر مصداق شعار خویش است .

* * *

مي گویند خیاطي بر دروازه شهر دکان داشت و هر روز که جنازه یي را از شهر بیرون مي بردند تا بخاك بسپارند او سنگي به کوزه مي انداخت تا در اخیر ماه تعداد مردگان شهر را بشمارد از قضا خیاط خود به چنگال اجل گرفتار آمد، دوستي به در دکان وي آمد و سراغش را از شاگرد وي گرفت . شاگرد گفت : خیاط در کوزه افتاد!

و با کنفرانس قبرس ... آخرین سنگ به کوزه افتاد ! بیچاره خیاط

فروغ حق

میر ظهور الدین «شهیر»

به راهي میروم یاران که راه مصطفیٰ باشد
مبرا جمله اعمالم ز نیرنگ و ریا باشد
عطا کن بر من بیچاره توفیق عمل یارب
که تا مژگان من جاروب درب اولیاء باشد
کدامین درب را گویم کجا آن رهنما یابم
که وي یاري محبت پیشه، درد آشنا باشد
اگر جویي درین عالم همي یابي چنین یاري
که از رنگ محبت او چوضه روشن لقا باشد
ز تزویر و ریا خود را مبرا کن که تا دایم
ز انوار حقیقت خانه، دل پر ضیا باشد
«شهیرا»! از پژوهش میکند گم کرده ره پیدا
درین وادي همي گویم خدایت رهنما باشد

وطن ته خطاب

اعتمادي

وطنه! تا به زه د سرو گلو بوستان جوړوم
هره دره به ي دښمن ته قبرستان جوړوم
وطنه! ستا اصیل بچي یم ستا خدمت به کوم
ستا کنډوالي به د سرو گلو گلستان جوړوم
ستا موتي خاوره به په سرو زرو بدله نه، کړم
له هر یو کاڼي به دي زه لعل و مرجان جوړوم
ورك به له تا وطن فروشان او خائنان کړمه زه
وطنه! تا به خائنانو ته نیران جوړوم
وطنه! ته مي معشوقه یې تل وصال دي غواړم
هر یو رقیب او غمازانو ته هجران جوړوم
وطنه! تا نه به خپل سر او مال قربان کړمه زه
اعتمادي وایي ستا هر گل به ریحان جوړوم

گیله

وثیق

ځوک مي وطن ورانوي ځوک مي سرونه وژني
ځوک مي گلشن ورانوي ځوک مي گلونه وژني
چا مي پگړي کړه سپکه چا مي شمله کړه ټيټه
چا مي تاریخ بدنام کړ ځوک مي نوموړنه وژني
ځوک د دوستي په پلمه ځوک د بشر په نامه
راته تیاري راولي سپین سپېدرونه وژني
لا سپرېدلي نه وي لا پوره شوي نه وي
ځوک مي غوټي د امید ځوک ارمانونه وژني
ځوک د فارس ښکلیو ته لیږي غنمي د وطن
ځوک مي ښکلا لوټوي ځوک مي لعلونه وژني
چا مي چنار ټیټ کړ چا مي نښتر زخمي کړ
چا مي سپرلي شهید کړ ځوک بهارونه وژني
تیاره جونگړه مي اوس شوله روښ به په لمر
بیا د جرگي په نامه راته لمرونه وژني
پام ! اي آزاد شاهینه په دام کي ښکیل چي نشي
دغه د فریب کوتري دي بیزارونه وژني
د «وثیق» کور سوځوي ورته لمبي بلوي
ځوک مي فرهنگ ژوبلوي ځوک مي رسمونه وژني

د شعر او آداب پاڼې

چي کور د شعر او سعدي کيا
د زړه سیمه ځي زړه ځو ډل کيږي

د جانان په لور

ملا ډر محمد «گوهري»

ورځ د الحشر ده ئن په ما چي مي جانان ته ځم - نبي سلطان ته ځم
نور البصر شمس و قمر ماه تابان ته ځم - نبي سلطان ته ځم
زه د غمرونو تږی - د دیدنونو تږی
مهجور زړگي مي گوري - د وصلتونو تږی
د هجر لاري غوځوم شاه خوبان ته ځم - نبي سلطان ته ځم
شمس الضحی مدني - نور الهدی مدني
نبا یمنه دلبر دي زما - خیر الوري مدني
د دواړو کونو معتبر په الله گران ته ځم - نبي سلطان ته ځم
زما دلبر دي په کي - نور البصر دي یکي
زه مدیني ته ځمه - خیر البشر دي یکي
مبارکي راکي نبي آخر زمان ته ځم - نبي سلطان ته ځم
مخ په آشنا ورځمه - د یار په خوا ورځمه
په زمکه نه یږدم قدم - پاس په هوا ورځمه
شاه عرب شاه عجم شاه شاهان ته ځم - نبي سلطان ته ځم
اي قریشي جانانه - اي هاشمي جانانه
ستا غلامي ته درځي - ستا گوهري جانانه
لکه بورا د گل په سینه گلستان ته ځم - نبي سلطان ته ځم

غزل

محمد رفیق «عزت»

هم مو گودر هم مو منگي زخمي دي
دا د ارمان شپېلي بي گونگه ښکاري
شفق به ولي رنگ په وینو نه وي
چي هر سحر بي په شرنگي وینیدم
کلي کوروونه بي وران کړي راته
د لیلي غیږي نه زگیروي را خیږي
دا د الله د پاك نصرت نښه وه

ټیټي ټیټي مو پسرلي زخمي دي
د غرو لمنو کي شپونکي زخمي دي
سحر زخمي مازیگري مي زخمي دي
د هغو شنو بنگړو شرنگي زخمي دي
مسجد شهید دي ښونځي زخمي دي
په وینو سور طالب لالی زخمي دي
په هر اندام چي شین سترگي زخمي دي

حال دي څرگند کړ د غزل په ژبه
«عزته» ستا مظلوم زړگی زخمي دي

د افغانستان د اقتصادي بیا رغاوني لاري چاري

یار محمد "همتوال" - دریمه برخه

د تجارت او صنعت نقش د ملي اقتصاد په وده کي :

د ملي اقتصاد د په پښو درولو په لاره کي تر تجارت د صنعت ونډه ډېره درنده او د ملي اقتصاد د ملاتیر جوړوي نو پدي لحاظ غواړم اول د صنعت په نقش باندي خبري وکړم چي د ملي اقتصاد دا برخه څنگه وده کولاي شي؟ او د هغه په ودي سره د مملکت په اقتصاد کي څرنگه بدلونونه را منځ ته کیداي شي ؟ د یوه هیواد د پرمختگ نښه دا ده چي د هغه اړتیاوي د صنعتي شیانو په برخه کي له داخلي صنایعو څخه تکمیل او پرېږدي چي خارجي اسعار د هیواد څخه د باندي ووځي بلکه له بهر څخه د صادراتي صنایعو له درکه د کتني وړ خارجي اسعار باید هیواد ته راشي.

دا چي زمونږ د هیواد د ملي اقتصاد عمده برخه د زراعت او مالداري په اقتصاد او د هغو په اړوند څانگو باندي ولاړه ده ددي معني به دا نه وي چي مونږ به د صنعتي کیدو په لاره کي گامونه نه اخلو ځکه زمونږ هیواد یو زراعتي هیواد دي بلکه مونږ باید ډیر زیات کوښښ وکړو چي زمونږ د ملي اقتصاد لویه برخه په صنعتي اقتصاد باندي تکیه ولري او زمونږ ملي عایدات له دي لاري څخه تر زراعتي برخي زیات وي ځکه په افغانستان کي طبیعي منابع او بشري قواوي دواړه شته دي او ډیر ارزانه هم دي خو مونږ باید دي ټکي ته متوجه شو چي دا طبیعي ارزانه منابع او دا بشري ارزانه قوت څنگه په کار واچوو؟

لکه څنگه چي معلومه ده د هر هیواد د صناعتي کیدو لاره د وسپني او فولادو د صنایعو په انکشاف پوري تړلي دي یعني هر څومره چي د فولادو او وسپني مصرف ډیریږي په هغه اندازه د هیواد د پرمختگ امکانات هم زیاتیږي . نو په دي لحاظ که مونږ غواړو چي زمونږ هیواد یو پر مختللي هیواد شي نو په لومړي سر کي باید زمونږ د وسپني او فولادو صنایعو ته پوره پاملرنه وشي ځکه افغانستان د وسپني د کانو په درلودلو سره د نړي په سطح که لومړي هیواد نه وي نو دوهم هیواد خو بي لـه شك او تردید څخه دي، ځکه زمونږ د حاجي گك د وسپني کان دوومیلیاردو مترو مکعبو وسپني په درلودلو سره د جهان یو ډیر مهم معدن دي چي ٦٤ فیصده وسپنه لري حال دا چي د نړي د وسپني ډیر مشهور معدن په سویدن کي دي چي د ٦٨ فیصده وسپني په درلودلو سره د نړي لومړي درجه معدن بیودل شوي دي.

په دي وروستیو وختو کي د غزني ولایت د معدن او صنایعو د ریاست په ادعا ویل شوي دي چي د مقر ولسوالي په سیمه کي یو د وسپني معدن کشف شوي دي چي په سلو کي نوي وسپنه لري که چیري دا ادعا تائید شي او دا معدن د وسپني لویه ذخیره لري نو په یقین سره ویلاي شو چي د افغانستان د وسپني کانونه د نړي په سطح د لومړي مقام لرونکي اهمیت لري.

ددي تر څنگ، د انرژیتکو موادو یعني د ډبري د. سکرو کمي هم نشته او ډیري لويي ذخیري یي د هرات په کرکرو او دره صوف په اشپشته کي موجودي دي چي د هغو په کارولو سره دا ممکن کیدلاي شي چي دا دواړه خام مواد سره یو ځاي او د فولادو د ویلي کیدو فابریکه را منځ ته کړي .

د فولادو تولید د صنعت په برخه کي خصوصاً د ثقیله صنایعو د انکشاف په حصه کي مهم رول لري او له دي لاري څخه د هیواد صناعتي کیدل ممکن کیدلاي شي. د صنعت د سکتور تقویه، مملکت د بهر څخه د صناعتي شیانو له واردولو څخه بي نیازه کوي او د ، خارجي اسعارو د وتلو مخه نیسي چي دا عامل خپله د ملي اقتصاد په پیاوړتیا کي زیات ارزښت لري.

ددي ډول صنایعو د انکشاف د پاره که په ملي سوداگرو تربوي کمي اندازي فشار راوستل شي او هغه تشویق کړاي شي چي خپلي پانگي د صناعتي سهامي شرکتونو او یا کوم سرمایداران چي لويي پانگي لري د فابریکو خصوصاً د ضروري اړتیا وړ صنایعو د انکشاف په برخه کي په کار واچوي چي په دي کي هم د ملت خیر دي او هم د سرمایه دار، خو صرفاً په تجارت کي خپلي پانگي بندول ددي په ځاي چي د ملي اقتصاد د بیا رغوني په کار کي ممد واقع شي هغه تخریبوي ځکه سوداگر یواځي د ځان د گټي په فکر کي دي چي له کوم جنس څخه او څنگه گټه کولاي شي. له هغه سره دا فکر دي چي خپله متاع ډیره ژر وپلوري او پیسي ژر تر لاسه کړي تر څو بي گټه زیاته دده جیب ته ولویږي. د هغه تجارت گټه ملي اقتصاد ته رسیدلاي شي چي هغه رهبري شوي تجارت وي ځکه آزاد تجارت د داسي هیوادو لپاره لکه افغانستان ددي په ځاي چي گټه ورسوي بر عکس زیات زیانونه را منځ ته کوي.

که چیري د تجارت وزارت په دي وتوانیږي چي د غیر ضروري اجناسو په واردولو سره بندیز ولگوي او پر ځاي بي ملي تجارانو ته لارښوونه وکړي چي هغوي د خلکود لومړنیو اړتیا وړ مواد خپل هیواد ته راوړي په دي راز تجارت کي هم د تجار فایده ده او هم د ملت د خلکو او دا ډول تجارت د ملي اقتصاد ډېرتي سره زیات کومك کولاي شي.

په ډیر تاسف سره باید ووایم چي په فعلي شرایطو کي پانگوال دي ته ترجیح ورکوي چي خپلي پانگي صرف د تجارت په برخه کي فعالي وساتي او د صناعتي پروژو د احداث سره چندان علاقمند نه دي چي البته علت یي دا دي چي تجار غواړي ژر ژر خپلي پیسي سره واړوي او زود رسه مفاد تر لاسه کړي نو ځکه دي د صنایعو خواته میلان نه ښکاره کوي چي د هغي سرمایي مفاد ډیر رسه دي.

دا د حکومت وظیفه ده چي پانگوال دي ته راوبولي تر څو خپلي سرمایي د صنعت په برخه کي په کار واچوي او د تجارت او د هغه په جواز ورکولو باندي باید داسي محدودیتونه ولگول شي تر څو د هغو په عملي کولو سره ملي پانگوال خپله دي نه را مات شي چي خپلي پانگي د تجارت پر ځاي د ملي صنایعو په انکشاف کي ولگوي او له دي لاري هم ځان ته گټه ورسوي او هم خپل هیواد ته .

د کندهار پوهنتون کې ...

محصلینو د شمیر په هکله معلومات راکړي ؟

ځواب : تر اوسه پوري د لیلیه محصلینو تعداد دوه سوه اویا تنو ته رسیږي خو د نوي تعلیمي کال په پیل سره به یې شمیر نور هم زیات شي.

پوښتنه : د تیر کال په پرتله د پوهنتون په چارو کې څه بدلون راغلي دي ؟

ځواب : د تیر کال په پرتله د پوهنتون په چارو کې ډیر مثبت بدلونونه او پرمختګونه راغلي د پوهنتون کتابتون فعال شوي دي، لابراتوار یې په کار پیل کړي دي او د استادانو شمیر هم زیات شوي له دي څخه علاوه د پوهنتون د لیلیې او په تدریسي پروګرامو کې ډیر بهبود راغلي او هم محصلینو ته د عملي کارونو زمینه برابره شوي ده .

پوښتنه : تر اوسه مو څو تنه فارغین ورکړيدي د هر پوهنځي شمیر جدا معلوم کړي ؟

ځواب : لکه تاسي چي خبر یاست د کندهار پوهنتون نوي تأسیس شوېدي او سږ کال د طب پوهنځي لومړي ځل لپاره دیرش تنه فارغان ورکوي چي البته د ستاژ د عملي مودي له تیریدو څخه د داکترانو په حیث تقدیمیږي او لکه مخکي مو چي اشاره وکړه د زراعت پوهنځي تر اوسه فارغان نه دي ورکړي .

پوښتنه : ایا بهرني بورسونه تاسو ته راځي ؟

ځواب : لکه چي کندهار پوهنتون د لوړو زدکړو د وزارت په تشکیل کي دي نو کوم خارجي بورسونه چي وزارت ته راځي په هغوي کي کندهار پوهنتون ځم سهمیه ورکول کیږي چي تیر کال د عراق یو بورس موږ ته راکړل شوي وو او سږکال د بانك انکشافي له خوا یو بورس د وزارت له طریق زموږ پوهنتون ته راکړل شوي نو که خارجي بورسونه وزارت ته راشي دلته کندهار پوهنتون ته هم سهمیه ورکول کیږي .

پوښتنه : تاسو سره په پوهنتون کي د کومو ولایاتو محصلین شامل دي ؟

ځواب : زموږ سره د کندهار په پوهنتون کي تقریباً د افغانستان د ټولو ولایاتو د شمالي ولایاتو په شمول محصلین شمولیت لري له دي څخه پرته د پاکستان د سرحدي علاقو محصلین هم شته چي هغه د سرحداتو د وزارت له لاري د لوړو زده کړو وزارت ته معرفي کیږي او وزارت یې بیا له ازمویني وروسته زموږ پوهنتون ته رالیږي چي د دیرش تنو په شاو خوا کي پاکستاني محصلین زموږ سره اوس موجود دي.

پوښتنه : په پوهنتون کي کوم نصاب تدریسیږي؟

ځواب : په پوهنتون کي هغه نصاب تدریسیږي کوم چي د افغانستان د اسلامي **امارت د لوړو زده کړو د وزارت له لاري د افغانستان ټولو پوهنتونو ته ټاکل شوي خصوصاً زموږ تدریسي** کوریکولم کټ مټ د کابل پوهنتون او طبي انستیتوت له کوریکولم سره مطابقت لري.

د صربستان د جمهور رئیس پر خلاف ولسي مظاهري وشوې

د صربستان په ستر ښار نولیاد کي څه نا څه پنځه زره کسانو د حکومت په ضد په مظاهرو لاس پوري کړ . مظاهره کوونکو د صربستان د جمهور رئیس سلو بودان میلو سوویچ د ډېر او ژر استعفا غوښتنه وکړه او هغه یې ددغه ښار د ویجاړیدو اصلي عامل وباله . په تیره اوونۍ کي هم د صربستان په څو ښارونو کي حکومتي ضد مظاهري شوي چي په هغو کي هم مظاهره کوونکو د صربستان د جمهور رئیس سلو بودان میلو سوویچ د استعفا غوښتنه کړېده . د نولیا د ښار د شمالي اتلانتیك د بمباریو له امله سخت زیانمن شویدي.

د کویټ خلك د رایو ورکولو صندوقونو ته ورغلل

د کویت خلك پرون د رایو ورکولو صندوقونو ته ورغلل چي ددغه هیواد د پارلمان لپاره د خپلي خوښي استازي وټاکي. دغه انتخابات د مي په میاشت کي په [illegible] ناڅاپي توګه ددغه هیواد د پارلمان د رنګیدو په باب د کویټ د امیر له تصمیم وروسته کیږي .

د کویټ پارلمان پنځوس غړي لري په دغو انتخاباتو کي دوه سوه اته اتیا تنو خپل ځانونه د هیواد پارلمان ته کاندید کړيدي.

د نیوو خبرو زده کړه او ورزش د مغزو د حجراتو د وژني مخه نیسي

د نویو خبرو زده کول او فکري ورزشونه لکه ریاضي او مناسب ورزشي حرکتونه د سپین ږیرو کسانو په مغز کي د سلولو د وژلو مخه نیسي.

د جاپان ماهرانو ویلي دي دلو یو ټکو زده کړه کولي شي د مغزي او حافظي د ناروغیو د معالجې لپاره د حل لاره شي. ددغو ماهرانو په وینا د سپین ږیرو افرادو په مغزو کي د نویو سلولونو اندازه د مغز په هغي برخه کي ځرګندیږي چي د زده کړي معلوماتو او اطلاعاتو په بهیر کي بنسټیز رول لري.

ایالات متحده امریکا لغو تحریمات علیه لیبیا را ویتو کرد

ایالات متحده امریکا با لغو تحریم ها علیه لیبیا مخالفت کرد. به گفته نماینده امریکا در سازمان ملل متحد، شوراي امنیت آن سازمان در حال حاضر نمیتواند با لغو تحریم ها علیه لیبیا موافقت نماید زیرا به عقیده امریکا لیبیا در قضیه سقوط طیاره در لاکر بی اسکاتلند بطور کامل همکاري نه کرده است . قرار بود شوراي امنیت سازمان ملل متحد دیروز گزارش سرمنشی سازمان را در باره تحریم هاي لیبیا بررسي نموده و در باره لغو این تحریم ها تصمیم گیرد. به تعقیب تسلیم دادن دو لیبیایي مظنون در حادثه سقوط طیاره لاکربي اسکاتلند به یك محکمه یي در هالند شوراي امنیت سه ماه قبل تحریم هاي لیبیا را به حال تعلیق در آورده بود.

یک کاروان حامل ...

هوا پیما هاي قواي هوایي اردوي امارت اسلامي افغانستان قرار گرفته و طعمه حریق گردید. قرار این گزارش طي دو هفته اخیر ارسال سلاح و مهمات از مرکز نظامي روسي مستقر در سرحدات تاجکستان - افغانستان شدت یافته و به تعقیب غرق گردیدن کشتي حامل سلاح و مهمات ملیشه ها در درياي آمو، از بین رفتن کاروان مذکور دومین صدمه **بزرگي بوده که بر پیکر ملیشه ها وارد گردیده است .**

شایان ذکر است که از بین رفتن کاروان حامل سلاح و مهمات مذکور و غرق گردیدن کشتي حامل مواد فوق الذکر در درياي آمو گویاي واضح آن است که ملیشه ها به حمایت و هدایت مستقیم حکام روسي به جنگ و فتنه انگیزي در افغانستان ادامه داده و نمیگذارند تا ملت مجاهد ما نفسي به راحت بکشند.

د لغمان ولایت د قرغه یي ...

ددغي ولسوالي پخواني وداني د کمونستانو او د هغوي د ائتلافي انهوالانو د حکومتونو د جګړو په وخت کي ورانه شوي وه چي د اسلامي امارت د بیا رغوونکي او د ګران هیواد د بیا زرغونوونکي پالیسي په رڼا کي له سره ودانیږي د دي وداني په جوړولو کي د سیمي مسلمانو اوسیدونکو هم د خپلي هر راز مرستي وعده ورکړي ده .

استاد سیاف اقاربش ...

است تا فیصله فامیل و اقارب خویش را پذیرفته و هر چه زود تر به این زندگي رقتبار و دور از فامیل که به شر دنیا و آخرت آنهاست خاتمه داده و به فامیل خویش بر گردد . اگر چه جواب استاد سیاف تا اکنون به اقاربش دو باره مواصلت نورزیده اما بعضي از منابع آگاه منطقه تصدیق نموده اند که در این اواخر تماس هاي متداوم مخابروي بین استاد سیاف و فامیلش جریان داشته و ممکن به نتیجه اي مثبتي منجر گردد. گفته میشود مسعود نیز از این جریانات کم و بیش آگاهي داشته و از این ناحیه خیلي نگران میباشد.

میلاد با عظمت ...

عالم جید و مجاهد کشور محترم مولوي محمد یوسف با بیانیه جذاب جهادي و علمي شان رسالت مسلمانان کشور و امت مسلمه را در برابر دسایس کفار و دشمنان اسلام تشخیص نمودند .

طبق یك خبر دیگر در اخیر محفل تحایفي که از طرف اداره مدرسه ضیا القرآن براي حافظان قرآنکریم و بخش ناظره که در امتحان به درجه ممتاز و جید نایل گردیده بودند توزیع گردید.

د نري رنځ د ...

ویشتو تنو ګډون په کي کړېدي د نري رنځ په ناروغي د اخته ناروغانو د علاج د لارو چارو لټولو په باره کي خبري اتري کیږي .

ایالات متحده ...

رئیس جمهور مونتینیګرو از چند سال به این طرف از حکومت مرکزي یوګوسلاویا فاصله گرفته مي رود.

اطلاعیه وزارت ...

ننګرهار و لغمان به ریاست دارالتأدیب ولایت ننګرهار .

٤- ساکنین ولایات فراه، نیمروز، بادغیس، هرات و غور در ریاست دالتأدیب ولایت هرات.

٥- ساکنین ولایات زابل، ارزګان، کندهار و هلمند به ریاست دارالتأدیب ولایت کندهار .

هموطنان محترم ما میتوانند که اطفال خود و اقارب خویشرا که به اعمال ناروا دست مي زنند به خاطر تربیه سالم اسلامي آنان در مرکز و ولایات از طریق محاکم به دارالتأدیب هاي مربوط تسلیم نمایند ان شا ، الله به زودي با روحیه اسلامي تربیه خواهند شد.

د سولي هر پروګرام ...

کیداي هغه وویل چي باید دغسي غونډې د هیواد دننه جوړې شي ځکه ځومره چي دا پروګرامونه له هیواده لري وي هغومره پري هیوادوال شك کوي چي به دي کي به د بهرنیانو لاس وي رحمت الله صافي وویل چي دغه کسان باید هیواد ته ولاړ شي او له طالبانو سره مرسته وکړي، هغه دا هم وویل چي د افغانستان هروګړي حق لري چي د خپل هیواد د ابادولو لپاره کار وکړي.

هند او مسعود په پاکستان ...

پنجشیر کي خبري کړېدي او هندي هیأت له مسعود سره د هند د هر اړخیزي همکاري ډاډ ورکړېدي .

دغه راز نړیوالو خبري منابعو خبر ورکړېدي چي څه موده مخکي د احمد شاه مسعود او د هند د لوړ رتبه مامورینو تر منځ هم لیده کاته شویدي او تائید شویدي چي په دي کتنه کي د افغانستان په چارو کي د ایران استازي علاو الدین بروجردي هم برخه لرله .

دغه راز خبري منابعو بر بنده کړېده چي مسعود د خپل ورور احمدضیا خپل وراره ودود او د داکتر مهدي په ګډون خپل یو شمیر استازي د هند له لوړ رتبه مقاماتو سره د زیاتو خبرو اترو لپاره دغه هیواد ته استولي دي.

جنګ هاي کرمین ...

انتشار آن به سایر نقاط تقاضاي کمك نظامي نموده است این جنګها خسارات زیادي به اهالي بي دفاع آنجا وارد نموده که مردم مجبور شدند تا به محلات دیگر پناه ببرند.

د کوسووا نیمایي ...

وخت کي له سختو مالي ستونزو سره مخامخ ده .

ده وویل دغو هیوادونو ژمنه کړي وه چي څلور سوه ملیونه دالره مالي مرسته د مهاجرینو د چارو لپاره د ملګرو ملتو د سازمان د عالي کمشنري په واك کي ورکوي، پداسي حال کي چي تر اوسه پوري یو سلو څلویښت ملیونه دالره یې تحویل شویدي.

لویدیځو هیوادونو په دي سیمه کي د خپلو پوځي بریدونو لپاره په ملیاردونو دالره بیل کړيدي. خو اوس چي د کاسووا د بیا جوړوني وخت را رسیدلي دي هغوي ددغي اداري د لګښتونو له تامینولو نه ډډه کوي.

د ګډون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ میاشتني	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

اطلاعیه بانك ملي افغان

با مسرت زیاد به اطلاع هموطنان گرامي در داخل و خارج کشور میرسانیم در اثر مفاهمه ایکه با دویچ بانك المان جرمني صورت گرفته بانك مذکور موافقه نموده است تا وجوه پولي هموطنان ما را که در خارج از کشور بسر میبرند و میخواهند به دوستان اقارب و فامیل هاي شان که در شهر کابل یا در ولایات کشور سکونت دارند طور مساعدت بفرستند از طریق حساب جاري شماره (۱۱۲۰۹۶۳۰۰) بانك ملي افغان که در نزد دویچ بانك مونشن مفتوح است عنواني بانك ملي افغان صادر نمایند. غرض تحقق این پروسه ایشان میتوانند شهرت مکمل گیرنده پول را با آدرس دقیق توضیح و از **خدمات بانکي دویچ بانك و نماینده گیهاي آن استفاده نمایند. کمك هاي پولي آنها بحساب جاري** نمبر (۱۱۲۰۹۶۳۰۰) بانك ملي افغان نزد دویچ بانك مونشن و از **طریق تمامي شعبات آن بانك در سر تا سر آلمان پذیرفته شده و به عنوان بانك ملي افغان کابل ذریعه فکس انتقال داده میشود. وجوه انتقالي که از طریق فکس شماره(۰۰۸۷۳۷٦۱٦۱۲۵۱۵) به بانك ملي افغان توصل میورزند بمجرد وصول بدون اخذ هیچ نوع** کمیشن (به استثناي مصرف خدمات بانکي) در وجه گیرنده حواله در مرکز و ولایات کشور تادیه و انتقال **میگردد.**

د عامې روغتیا وزارت خبرتیا

ټاکل شویده د الماني داکترانو یو ټیم په نږدې راتلونکي کي کابل ته را ورسیږي .

له دي امله هغو کورنیو ته چي ماشومان یې پخوا د همرفورم موسسي د الماني داکترانو لخوا کتل شوي و او هم هغو ماشومانو ته چي د اورتوپیدي تا روغي لري خبر ورکول کیږي چي د علاج لپاره دي د روان کال د ربیع الاول د میاشتي په ۲۱ نیټه د سهار په اتو بجو د ماشوم روغتیا روغتون ته ورشي.

تبصره

جهانیان باید از داعیه ملت مسلمان کشمیر حمایت نمایند

چنانچه جهانیان اطلاع دارند از چندي بدینسو قواي نظامي هند با استفاده از قواي مجهز نظامي و قسي القلبي دست به تهاجمات وسیع و بي رحمانه بر علیه مجاهدین آزادیخواه و ملت مسلمان کشمیر زده و در این راستا مظالم حیرت آوري بر مردم مظلوم کشمیر روا داشته است، با آنکه حملات اخیر نیرو هاي نظامي هند بر مواضع و استحکامات مجاهدین کشمیري نه تنها کدام موفقیتي در قبال نداشته و بر خلاف انتظار و پلان هاي نظامیان هندي، حملات مذکور با مقاومت دلیرانه مجاهدین کشمیر مواجه گردیده و در همه محاذات با شکست مواجه گردیده بلکه مجاهدین کشمیر در این زدو خورد ها بر علاوه اینکه تلفات سنگین جاني و مالي به قواي اشغالگر وارد آورد. چندین مناطق خیلي مهم و ستراتیژیك را نیز از نزد آنها به تصرف خویش در آورده اند. با توجه به تتابع واقعات و حادثات اخیر در کشمیر چندین نکته قابل بحث و تحلیل است که براي همه جهانیان عموماً و براي حکام هندي خاصتاً قابل تعمق و غور بوده و باید که من بعد منحیث یك درس عبرت از آن پند پذیر شوند. مسلم است که در عصر حاضر یا عصر پیشرفت هاي بي مثال ساینس و تکنالوژي ، نوع بشر خود را در مقام شامخ علم و ترقي قرار داده و ادعاي پیروزي علم، منطق و استدلال را بر زورګویي و جهالت زمزمه میکند، ملت هاي امروز خصوصاً فرمانروایان و دست اندرکاران ممالك جهان نخست باید به این نکته معتقد باشند که مفاهمه استدلال منطقي و شناخت حقوق خود و دیګران و احترام به آن حلال همه معضلات و سؤ تفاهمات بوده و سزاوار نیست تا جهانیان با علم و دانش به جزء از انتخاب این راه بخاطر حل معضلات به راه هاي دیګر توسل جویند وضاح است که در هر کشیدګي بدون شك یك جانب حق و جانب دیګر سرکش و متجاوز است و جنګ نیز پدیده طبیعي عدم قبول حق . استدلال و منطق در حل معضلات میباشد در مسئله کشمیر همه جهانیان معتقد اند که ملت کشمیر همچو ملل دیګر جهان جزئي از پیکر جامعه جهاني بوده حق زندګي ، حق استقلال و حق تعیین سرنوشت خویش را دارند حال که حکام هندي با تعمیل جبر و فشار نظامي آنها را از این حقوق محروم میتماید واضح است که هند بر طریق باطل در حرکت بوده و حملات نظامي اش دلیل ناکامي علمي، منطقي و سیاسي اداره چیان آن کشور است . اګر چنین نمي بود و هند واقعاً حقي در این مورد میداشت باید که مطابق فیصله هاي ملل متحد و خواست جامعه جهاني به حق خود ارادیت ملت کشمیر احترام میګذاشت و به آنها موقع میداد تا سرنوشت خویش را خود شان تعین نمایند. اینکه جانب هند از مفاهمه و ګفت و شنود ابا میورزد واضح است که استدلال و منطق علمي نداشته و متجاوز میباشد بناً جاي افسوس است به حال حکام هندي که در عصر علمي کمپیوتر باز هم از شیوه هاي جاهلانه و بدوي کار میګیرد، مسئله دوم قابل توجه اینست که حکام هندي باید از سرنوشت روسها در افغانستان و چچینیا و سرنوشت یوګوسلاویا در بوسنیا و کوسووا پند بګیرند آنها باید قبول کنند که نه ملت ها را از بیخ و بن نابود کرده میتوانند و نه سیاست جبر و فشار بقایي دارد ، بلکه ملت ها روزي حتماً به آرزوي شان رسیده و متجاوزین بدون شك محکوم به شکست اند که تاریخ شاهد صد ها این نوع واقعات میباشد.

البته حکمرانان دهلي باید این فکر را نیز کرده باشند که تداوم مصروفیت هاي نظامي هند در کشمیر زمینه فعالیت هاي تخریبي و قیام هاي ملي ګرایانه داخلي را در ایالات پنجاب - اسام تامیل نادو و بهار هند شدت بخشیده و شاید هند نیز در نتیجه عاقبت نا اندیشي حکام خویش مانند اتحاد شوروي سابق پارچه پارچه ګردد .

مسئله سومي که باید حکام هندي متوجه آن باشند اینست که تداوم حملات نظامي بالاي مردم کشمیر و وسعت دامنه جنګ هیچګاه به نفع هند نبوده و تباهي هاي بي حسابي در قبال خواهد داشت زیرا با وسعت جنګ شاید منطقه در آتش استعمال سلاحهاي اتومي به مخروبه مبدل ګردیده و از همه به میراث باقي بماند که بصیرت و عواقب اندیشي علمي هیچګاه بدست خود به جانب چنین ګودال حرکت کردن را اجازه نمیدهد .

در اخیر باید ګفت چون در مرحله کنوني حکام هندي به زورګویي و استعمال طاقت توسل جسته شاید کمتر متوجه جستجوي راه هاي علمي و عواقب تعامیم فعلي خود ګردیدند بناً بر جامعه جهاني خصوصاً سازمان ملل متحد و اعضاي شوراي امنیت است تا هر چه زود تر سکوت شانرا در برابر این معضله مهم جهاني که خالي از خطرات حیاتي براي کافه بشریت نیست ، به حرکت و تلاش هاي مجدانه علمي و دیپلوماتیك مبدل نموده و بر هر نحوي که ممکن باشد حکام هندي را از عواقب شوم عملکرد هاي فعلي شان باز داشته و ملت آزادیخواه کشمیر را از شر آنان نجات بخشیده و رسالت جهاني انساني شانرا در این عرصه انجام دهند. البته باید تذکر داد که سازمان کنفرانس کشور هاي اسلامي و ممالك **مسلمان جهان در شرایط ناګوار فعلي که برادران کشمیري شان در زیر مظالم و وحشت هاي هندو هاي وحشي شب و روز سپري مینمایند از هر حیث برادران مسلمان کشمیري خویش را مساعدت نموده و احساسات اخوت و وحدت اسلامي شانرا در عمل به اثبات برسانند.**

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Saqeb
Editor: Malyar Kakal
Peshawar .Tel # : 844331
Postal Add: U.P.O. Box # 1057 Peshawar - Pakistan
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar
Printed by: Dawlati Printing Press